شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**مالك بن دينار (رحمه الله) وايي:**

په ترسره سوې ګناه د پښېمانۍ ژړا، ګناهونه داسي رژوي؛ لکه: باد، چي وچې پاڼې له وني رژوي.

ذم الهوی {۲۲۳}

**مالك بن دينار (رحمه الله) می گوید:**

گریه های پشیمانی از گناه مرتکب شده، گناهان را مانند برگهای خشک درخت می ریزاند.

ذم الهوی {۲۲۳}

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


شنبه| د جمادي الثاني ۲٦-١٤٤٦ل س/ د مرغومي ۸-۱۴۰۳ل ل/ د ډيسمبر ۲۸-۲۰۲۴ز/څلورم کال / ۱۲۷ ګڼه/ ٤ مخیزه




# سرمقاله

## توسعه سیستم جدید مدیریت مالی افغانستان یا افمس (AFMIS)

سیستم معلوماتی مدیریت مالی افغانستان (افمس) یک سیستم الکترونیکی پیشرفته است که با رعایت معیارها و استانداردهای ملی و بین‌المللی برای مدیریت، تنظیم، کنترول و گزارش دهی امور مالی در سکتور مالی عامه کشور طراحی شده است. این سیستم با هدف مرکزی سازی اطلاعات مالی، تسهیل مدیریت از یک نقطه واحد، و یکسان سازی پروسه‌های مالی و حسابی، در تمامی واحد های بودجوی مورد استفاده قرار دارد. افمس شامل ماديول های متعددی مانند مدیریت اجرای بودجه، دفتر کل، مدیریت خزاین، خریداری، و مصارف است که تمامی جنبه های کلیدی مدیریت مالی را پوشش داده و به بهبود کارایی، دقت، و شفافیت در معاملات مالی کمک می‌کند. این سیستم علاوه بر ثبت و پیگیری معاملات مالی، تادیه معاشات و مصارفات، و نظارت بر قراردادها و عواید، با ارائه گزارش های دقیق مالی، تسریع روند پروسه ها و شفافیت، تصمیم‌گیری های مالی را تسهیل می‌کند.

سیستم قبلی افمس که توسط شرکت فریبلانس در سال (۲۰۰۲) میلادی به همکاری مالی بانک جهانی طراحی و تطبیق شده بود و تمام امورات تخنیکی آن توسط شرکت مذکور پیش برده می شد که کارهای روزمره با چالش های همچون داشتن سرعت پایین، عدم سازگاری با تکنالوژی نوین، نداشتن مالکیت کامل کود منبع، عدم پاسخگویی به موقع و هزینه های گزاف نگهداری و اتصال به سیستم های موجود مالی و بانکی روبرو بود. بنابر این، رهبری وزارت مالیه تصمیم اتخاذ نمودند تا سیستم را طراحی نمایند تا جوابگوی تمام نیازمندی های فعلی بوده، چالش های موجوده را بر طرف نموده، جلو مصارف گزاف را گرفته و قابلیت هر نوع تغییر در سیستم را دارا باشد.

سیستم جدید افمس که توسط تیم تخنیکی و متخصص ریاست عمومی خزاین وزارت مالیه توسعه یافته است، یک دستاورد استراتیژیک و کلیدی در راستای بهبود مدیریت مالی عمومی کشور محسوب می‌شود. این سیستم با هدف اتومات سازی پروسه های مالی، تضمین شفافیت و دقت در معاملات و پاسخگویی به نیاز های استراتیژیک و عملیاتی خزاین طراحی و توسعه یافته است. اهداف استراتیژیک توسعه این سیستم شامل بهبود مدیریت جریان نقدی، افزایش سرعت و دقت در تصمیم گیری های مالی، و پشتیبانی از نیازهای مالی ادارات امارتی است. در کنار آن، سیستم نو با رعایت کامل استاندارد‌های ملی و بین‌المللی و شفافیت و امکان تفتیش در تمامی معاملات مالی را فراهم می‌سازد. یکی از مهم‌ترین مزایای این سیستم، توسعه و مدیریت آن توسط تیم داخلی وزارت مالیه است که امنیت اطلاعات (دیتا ها) و مالکیت کامل اطلاعات را تضمین می‌کند. همچنین، توسعه داخلی این سیستم امکان پاسخگویی سریع تر به نیازها و مشکلات را فراهم کرده و هزینه‌های نگهداری و توسعه را بطور قابل توجهی کاهش داده است.

از منظر تخنیکی، افمس جدید قابلیت اتصال با سایر سیستم‌های کلیدی مانند سیستم برنامه ریزی و پیش بینی بودجه دولتی (SBPS)، سیستم مدیریت معاشات خزاین (TPMS)، سیستم اسیکودا (ASYCUDA)، سیستم مدیریت مالیات (SIGTAS) و سیستم‌های د افغانستان بانک (DAB) را دارا است. این ادغام سبب ایجاد هماهنگی بیشتر میان نهادهای مختلف دولتی، تسریع روند پروسه های مالی و انسجام در مدیریت منابع و اطلاعات مالی می گردد.

توسعه سیستم جدید (AFMIS) در جریان دو سال توسط کارمندان تخنیکی ریاست عمومی خزاین وزارت مالیه تکمیل گردید. بعد از مطالعه سیستم موجود و پروسه های مالی و جمع آوری معلومات، توسعه سیستم جدید آفمس آغاز گردیده با تکمیل نمودن هر ماديول، توسط بخش تحلیل و تطبیق افمس بصورت دقیق مورد آزمایش قرار میگرفت. همچنان قبل از برگزاری مرحله نهایی آزمایشی در واحدهای بودجوی، سیستم جدید (AFMIS) توسط اشخاص ارتباطی شعبات اصلی ریاست عمومی خزاین آن مورد آزمایش‌های جامع قرار گرفت و بعد از اطمینان کامل، سیستم در چهار دوره در چهارده وزارت های مرکزی و هشت مستوفیت در ولایات مورد آزمایش قرار گرفته و نتیجه موفقانه به دست آمده است. آموزش مربیان برای مرحله آزمایشی نیز از جمله اقدامات مهم بوده که با هدف اطمینان از تسلط کامل آنان بر سیستم و انتقال مؤثر دانش به کاربران نهایی انجام شده است. در این پروسه، مربیان نه تنها قابلیت‌های سیستم را آموخته اند، بلکه بصورت عملی این قابلیت‌ها را در هر دو سیستم آزمایش کرده‌اند. علاوه بر این، سیستم در حین آموزش، از نظر عملکرد، سرعت، دقت محاسبات و امنیت نیز مورد آزمایش قرار گرفته است.

توسعه سیستم جدید افمس نتیجه تعهد، سعی و تلاش شبانه روزی همکاران تخنیکی وزارت مالیه و حمایت و انگیزه مثبت رهبری با تیم های تخنیکی در روند پروسه توسعه افمس بود. همچنان استفاده از تکنالوژی های نوین و با در نظرداشت میتود ها و معیارات بین المللی برای توسعه سیستم های معلوماتی و مدیریت مالی سکتور عامه همراه با آزمایش های دقیق در مراحل مختلف و همکاری ادارات ذیربط در توسعه و تطبیق ازمایش نقش بارز داشته است.

در نتیجه، توسعه سیستم جدید (AFMIS) نمایانگر گامی مؤثر در راستای خود کفایی و ایجاد اعتماد به کادرهای تخنیکی ملی در عرصه سیستم سازی، عصری سازی پروسه های مالی با تطبیق معیارهای بین‌المللی است. این سیستم نقش مهمی در تسهیل مدیریت مالی دولت، کاهش هزینه‌ها و تضمین شفافیت و پاسخگویی خواهد داشت.

**با احترم**
**اداره**

# د تقاعد د حقوقو په تړاو د ماليې وزارت اعلاميه!



د افغانستان اسلامي امارت د زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) د (۱۴۴٦ هـ.ق) کال د (۱۲مي) ګڼې فرمان پر بنسټ، د ټاکل سويو اصولو له مخي د وزارتونو او امارتي ادارو (له فتحي څخه مخکي متقاعدينو) او د برحاله امارتي کارکوونکو د تقاعد د حقوقو ورکولو پرېکړه سوې ده. د ياد فرمان له مخي د هيواد ستري محکمې ته دنده سپارل سوې ده، چي د ماليې وزارت او غير بوديجوي واحدونو سره په بشپړه همغږۍ د متقاعدينو د حقوقو قضيو ته د شريعي اصولو پر بنسټ رسېدنه وکړي. د اسلامي امارت له بيا ځلي حاکميت څخه مخکي ټول متقاعدين کولای سي، د خپل تقاعدي حق د ثابتولو له پاره د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمې ته عريضه وړاندي کړي، چي غوښتني ته به ئې د محکمې له لوري د ماليې وزارت او د متقاعد شخص د اړوندي اداري په همکارۍ د ټاکل سويو کړنلارو او شريعي اصولو له مخي رسېدنه او اجرآت ترسره سي. همداراز، د هغو امارتي کارکوونکو د تقاعد ونډه، چي له فتحي څخه را وروسته د (۱۴۴۵/۹/۲۱ هـ.ق) نېټې د (۴۸۰۲) ګڼې حکم تر صادرېدو پوري ئې له معاشونو څخه وضع سوې ده، د اړوندو بوديجوي او غير بوديجوي واحدونو له لاري د محکمې له حکم پرته اجراء کېږي. د يادوني وړ ده، چي د ياد فرمان پر بنسټ؛ د متقاعدينو د حقوقو ورکولو پروسه به د تشکيلاتو او معاشونو کمېسيون له لوري له ټاکل سوي مهالوېش سره سم پيل سي.

# د روان کال د لړم په مياشت کي د هيواد ګمرکي چارو (۲۵،۲) سلنه پرمختګ کړی دئ




د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال د لړم په مياشت کي په ګمرکونو کي د ترسره سويو چارو د تخنيکي ارزوني ناسته پر ليکه او حضوري بڼه وسوه. په دغه ناسته کي د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال د لړم په مياشت کي په ګمرکونو کي د ترسره سويو فعاليتونو ټوليز راپور وړاندي سو. په ياده موده کي د عوايدو د راټولېدو، د هيواد په ګمرکونو کي د ترسره سوي سوداګرۍ، د وارداتي توکو د ګمرکي ارزښت او د سوداګريزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه بشپړ معلومات وړاندي سول، چي له مخي ئې د پرو سږکال د همدې مودې په پرتله، د ګمرکونو چارې (۲۵،۲) سلنه مثبتې وښودل سوې. همداراز د وړاندي سوي راپور له مخي د روان مالي کال په اتو مياشتو کي هيواد ته د سوداګريزو اقلامو ګمرکي ارزښت هم د پرو سږ کال د همدې مودې په پرتله (۱۹،۳) سلنه لوړ سوی دئ. په پای کي د وړاندي سوي راپور په تړاو هر اړخيز تخنيکي بحثونه وسول او د چارو د لا پرمختګ په موخه د ولايتي ګمرکونو د مسئولينو ستونزي او وړانديزونه واورېدل سول، چي د رهبرۍ له لوري د ستونزو د حل ډاډ ورکړل سو او ورسره اړيني سپارښتني هم شريکي سوې.



د خوست په ګمرک کي د (۱۰۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د موټرونو تمځای جوړ سو


م ۲




د بوديجوي واحدونو له مالي مسئولينو سره د ملي بوديجې او لګښتونو په تړاو د همغږۍ ناسته وسوه


م ۲




د مرکزي زون د مستوفيتونو او ګمرکونو نويو ګومارل سويوکارکوونکو ته پر ليکه روزنيز پروګرام جوړ سو


م ۲







تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي


م ۲




اقتصاد دیجیتلی و نقش وزارت مالیه در توسعه آن


م ۳





چين د افغانستان د شتمنۍ د خوشي کېدو غوښتنه کړې ده


م ٤

شتمني SHTAMANI
اوونيزه

# د خوست په گمرک کي د (۱۰۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د موټرونو تمځای جوړ سو




د ماليې وزارت له لوري د هيواد په گمرکونو کي د بېلابېلو پراختيايي پروژو د عملي کولو په دوام؛ د دغه وزارت د گمرکونو لوی رياست د (۱۰۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د خوست په محصولي گمرک کي د موټرونو له پاره معياري تم ځای جوړ او گټي اخيستني ته وسپاره. د موټرونو دغه تم ځای په (۱۴) جريبه ځمکه کي جوړ سوی او پر يوه وخت د (۳۰۰) بار وړونکو موټرونو د درېدو ظرفيت لري. د موټرونو په دې تم ځای کي په اساسي ډول کانگرېټ اچول سوی، چي د اور وژني او د برېښنا سيستمونه هم پکښې فعاله سوي دي. د دغه پروژې ټول لگښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول سوی دئ او رغنيزي چاري ئې هم د يوه افغاني شرکت له لوري په (۸) مياشتو کي بشپړي سوي دي. د ياد تم ځای په جوړېدو سره موټر چلوونکو، سوداگرو او د خوست گمرگ کارکوونکو ته په بېلابېلو برخو کي گڼي اسانتياوي برابري سوي دي.

# د بلخ ولايت په نايب اباد گمرک کي د (۳۰،۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د سايوان جوړولو پروژه پيل سوه



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست له لوري د بلخ ولايت د څلورم پورټ (نايب اباد) په گمرک کي د (۳۰،۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د سوداگريزو توکو د تشريح له پاره د سايوان جوړولو پروژه پيل سوه. د دې پروژې په پلي کېدو سره به د گمرکي تشريح پر مهال د سوداگريزو توکو د خونديتوب په برخه کي سوداگرو او د گمرک کارکوونکو ته گڼي اسانتياوي رامنځته سي. د يادي پروژې لگښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول کېږي او چاري به ئې تر راتلونکو (۱۰) مياشتو پوري بشپړي سي. د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت له خپلي پراختيايي بوديجې څخه له دې وړاندي هم، په گڼو گمرکونو کي پراختيايي پروژې پلي کړي دي او ځيني ئې د پلي کېدو په حال کي دي.


# د بوديجوي واحدونو له مالي مسئولينو سره د ملي بوديجې او لگښتونو په تړاو د همغږۍ ناسته وسوه

د ماليې وزارت د مالي معين حاجي عبدالقدير احمد په مشرۍ د بوديجوي واحدونو (وزارتونو او خپلواکو ادارو) له مالي مسئولينو سره د ملي بوديجې او لگښتونو د کنټرول په موخه د همغږۍ گډه ناسته، د دغه وزارت په خيبرهال کي ترسره سوه. په دې غونډه کي د ملي بوديجې د گټور مديريت، د بې ځايه لگښتونو د کنټرول، د تدارکاتي پروسو د ښې څارني، د عادي او پراختيايي لگښتونو د اجراء، د عوايدي سرچينو پر گټور مديريت او عوايدي هدف ته د رسېدو په لارو چارو خبري وسوې او له گډونوالو سره اړيني سپارښتني شريکي سوې. د ماليې وزارت مالي معين او د ملي بوديجې او خزاينو لويو رياستونو مسئولينو په خپلو خبرو کي ټينگار وکړ، چي ټول بوديجوي واحدونه بايد د بې ځايه لگښتونو مخنيوي ته جدي پاملرنه وکړي؛ څو وکولای سو په گډه سره، ملي بوديجه په گټوره توگه مديريت کړو او د همدې خپلواکي بوديجې په مټ د دولت ټول عادي او پراختيايي لگښتونه پر خپل وخت ترسره کړو. په دغه غونډه کي د بوديجوي واحدونو د مالي مسئولينو، پوښتني او وړانديزونه هم واورېدل سول او د چارو د لا ښه پرمختگ په موخه د لا پياوړي همغږۍ پر رامنځته کولو ټينگار وسو.



# د مرکزي زون د مستوفيتونو او گمرکونو نويو گومارل سويو کارکوونکو ته پر ليکه روزنيز پروگرام جوړ سو

د ماليې وزارت د کارکوونکو چارو رياست، د مرکزي زون د مستوفيتونو او گمرکونو نويو گومارل سويو کارکوونکو ته د «مديريت د اساساتو» تر سرليک لاندي پر ليکه روزنيز پروگرام جوړ کړ. په هغه ناسته کي، چي په همدې تړاو د دغه وزارت اداري معينيت د غونډو په تالار کي جوړه سوې وه، اداري معين مولوي دوست محمد مخلص، د دعوت او ارشاد رئيس مولوي عبدالهادي سيف الخالد او د روزني او ظرفيت لوړوني آمر محمد نادر همايون گډون درلود. د روزني او ظرفيت لوړوني آمر د دغه پرورگرام په پرانيستي وينا کي وويل، چي د روزني او ظرفيت لوړوني آمريت د نويو گومارل سويو کارکوونکو د ظرفيت لوړوني له پاره بېلابېل پروگرامونه جوړ کړي دي، چي دغه پروگرام يو له هغو څخه دئ. په دې پروگرام کي به تجربه لرونکي ښوونکي تاسي ته تدريس وکړي، تاسي بايد پر ټاکلي وخت خپلو درسونو ته حاضر سئ او په جدي توگه زده‌کړه ورڅخه وکړئ. اداري معين د خپلو خبرو په ترڅ کي وويل، چي ستاسي سروکار له خلکو سره دئ؛ نو د دې له پاره، چي په خپلو ادارو کي د خلکو ستونزو ته رسېدنه وکړئ، خپلي مسلکي پوهې بايد لوړې کړئ، ستاسي د مهارتونو د لوړولو له پاره دغه پروگرام چمتو سوی دئ؛ نو گټه ور څخه پورته او څه چي زده کوئ تر نورو ئې هم ورسوئ. د دعوت او ارشاد رئيس په خپلو خبرو کي وويل، چي دغه ظرفيت لوړونه د بيت المال په پيسو ترسره کېږي؛ نو له دغه پروگرام څخه پوره گټه پورته کړئ، ترڅو له بيت المال سره خيانت ونه سي. نوموړي له کارکوونکو وغوښتل، چي د خپل ظرفيت د لوړولو په موخه له دغه پروگرام څخه د استفادې ترڅنگ د اسلامي امارت د زعيم هغه فرمان، چي د اسلام د ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم له سنتو سره سم د خپل صورت او سيرت عيارول دي هم پلي کړي. د يادوني وړ ده، چي ياد پروگرام به يوه اوونۍ وغځېږي او په هغه کي به گډونوالو ته د پلان گذارۍ، سازماندهۍ، رهبرۍ، کنټرول، تصميم نيونو او د کارکوونکو او مراجعينو سره د چلند په تړاو روزنه ورکړل سي.



## تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي






د مالی وزارت د گمرکونو لوی رياست د گرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د کندهار، فراه، نيمروز، هلمند او ننگرهار ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي. په نيول سويو توکو کي (۳۵۵۲) کيلو گرامه چاکلېټ، (۱۲٦۳۴) کيلو گرامه مالگه، (۴۱۸۴) کيلو گرامه رُب، (۳٦۲۵) کيلو گرامه وچې شيدې، (۲۹۷۵) کيلو گرامه گوړه، (۱٦۰٦) کيلو گرامه درمل، (۹۰۸) کيلو گرامه مکروني، (۲۷۸) کيلو گرامه رخت باب، (۳۲۴) کيلو گرامه خالي کارټنونه، (۱٦۰۰) کيلو گرامه تنباکو، (۲۳۵) کيلو گرامه لوبيا، (۲۲۵) کيلو گرامه شامپو، (۱۲۰) کيلو گرامه دال او (۷۰) کيلو گرامه بنجاره شامله ده. نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي. د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د گرځنده څارني کارکوونکي په ټول هيواد کي گرځنده څارني کوي او هيچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## د کندهار په محصولي گمرک کي امنيتي کامرې فعالي او له مرکز سره ونښلول سوې




د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د کندهار په محصولي گمرک کي (۳۱) دانې امنيتي کامرې فعالي او له مرکز سره ونښلولې. د يادو امنيتي کامرو د نصب چاري پخوا ترسره سوي وې، چي اوس د گمرکونو لوی رياست د تخنيکي ټيم له لوري په معياري ډول ترميم، فعالي او د مرکز د کنټرول خوني له خانگي سره ونښلول سوې. له دغو کامرو څخه به د امنيتي مسايلو تر څنگ د گمرکي سرغړوونو او د پېښو د مخنيوي په برخو کي کار واخيستل سي. د يادوني وړ ده، چي ډېر ژر به د فراه ولايت د ابو نصر فراهي په گمرک کي هم ورته امنيتي کامرې نصب او فعالي سي.

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

# اقتصاد دیجیتلی و نقش وزارت مالیه در توسعه آن

سعید رزمنده

**مقدمه**

اقتصاد دیجیتلی به عنوان یکی از اصلی‌ترین موتورهای رشد اقتصادی در قرن بیست و یکم شناخته می‌شود. این اقتصاد بر پایه تکنالوژی‌های دیجیتلی استوار است و شامل زمینه‌هایی همچون تجارت الکترونیک، تکنالوژی اطلاعات و ارتباطات (ICT)، هوش مصنوعی (AI) و انترنت اشیا (IoT) می‌شود. در این مقاله به بررسی نقش وزارت مالیه در توسعه اقتصاد دیجیتلی پرداخته می‌شود.

## تعریف اقتصاد دیجیتلی:

اقتصاد دیجیتلی به مجموعه فعالیت‌های اقتصادی اطلاق می‌شود که بر پایه فناوری‌های دیجیتلی و اینترنت انجام می‌گیرد. این اقتصاد شامل تولید، توزیع و مصرف کالاها و خدمات دیجیتلی می‌شود و به طور مستقیم و غیرمستقیم بر تمامی جنبه‌های زندگی تاثیرگذار است. به تعبیر دیگر، اقتصاد دیجیتلی به تبدیل فرآیندهای اقتصادی سنتی به فرآیندهای دیجیتلی اطلاق می‌شود.

## اهمیت اقتصاد دیجیتلی:

**اقتصاد دیجیتلی به دلایل زیر اهمیت بسیاری دارد:**

رشد سریع: اقتصاد دیجیتلی با سرعت زیادی در حال رشد است و نقش مهمی در افزایش تولید ناخالص داخلی (GDP) ایفا می‌کند. طبق تحقیقات مک‌کینزی، تا سال (۲۰۲۵) حدود (۲۵) درصد از رشد جهانی GDP به اقتصاد دیجیتلی اختصاص خواهد داشت.

نوآوری و کارآفرینی: این اقتصاد باعث افزایش نوآوری و کارآفرینی می‌شود و فرصت‌های جدیدی برای کسب و کارها ایجاد می‌کند. به عنوان مثال، ایجاد استارتاپ‌های فین‌تک و اپلیکیشن‌های موبایل.

بهبود کارایی: استفاده از فناوری‌های دیجیتلی باعث افزایش کارایی و کاهش هزینه‌ها در سازمان‌ها می‌شود. طبق مطالعات بانک جهانی، سازمان‌هایی که از تکنالوژی دیجیتلی استفاده می‌کنند، به طور متوسط ۲۰ درصد کارایی بیشتری دارند.

نقش وزارت مالیه در توسعه اقتصاد دیجیتلی

وزارت مالیه نقش مهمی در توسعه اقتصاد دیجیتلی دارد. این نقش‌ها شامل موارد زیر می‌شود:

ایجاد زیرساخت‌های مالی: وزارت مالیه با ایجاد زیرساخت‌های مالی مناسب، مثل سیستم‌های پرداخت الکترونیک و بانکداری دیجیتلی، زمینه‌های لازم برای توسعه اقتصاد دیجیتلی را فراهم می‌کند. ایجاد زیرساخت‌های قوی مانند سیستم‌های پرداخت موبایلی و کیف‌پول‌های دیجیتلی از اهمیت بالایی برخوردار است.

پشتیبانی از نوآوری: وزارت مالیه می‌تواند با ارائه تسهیلات مالی و مشوق‌های مالیاتی به شرکت‌های تکنالوژی، از نوآوری و کارآفرینی حمایت کند. این مشوق‌ها می‌توانند شامل کاهش مالیات بر درآمد برای شرکت‌های نوپای تکنالوژی و تامین مالی پروژه‌های تحقیق و توسعه باشند.

افزایش شفافیت: با استفاده از تکنالوژی‌های دیجیتلی، وزارت مالیه می‌تواند شفافیت مالی را افزایش داده و از فرار مالیاتی جلوگیری کند. به



عنوان مثال، استفاده از بلاک‌چین در سیستم‌های مالی می‌تواند شفافیت تراکنش‌ها را افزایش دهد.

توسعه منابع انسانی: آموزش و توسعه منابع انسانی در زمینه تکنالوژی دیجیتلی یکی از وظایف مهم وزارت مالیه است. این وزارتخانه می‌تواند با برگزاری دوره‌های آموزشی و ایجاد مراکز تحقیقاتی، نیروی کار ماهر در حوزه دیجیتلی را تربیت کند. تربیت نیروی انسانی متخصص در زمینه‌های هوش مصنوعی، تحلیل دیتا و برنامه‌نویسی از اهمیت بالایی برخوردار است.

تشویق به سرمایه‌گذاری: وزارت مالیه می‌تواند با ایجاد سیاست‌های مالی مناسب، سرمایه‌گذاری در بخش‌های مختلف اقتصاد دیجیتلی را تشویق کند. ایجاد صندوق‌های سرمایه‌گذاری خطرپذیر (VC) و ارائه تسهیلات مالی به شرکت‌های نوپا از جمله این سیاست‌ها هستند.

## چالش‌های توسعه اقتصاد دیجیتلی:

توسعه اقتصاد دیجیتلی با چالش‌هایی نیز مواجه است که برخی از آن‌ها عبارتند از:

کمبود زیرساخت‌های تکنالوژی: نبود زیرساخت‌های فناوری مناسب می‌تواند مانع توسعه اقتصاد دیجیتلی شود. تقویت زیرساخت‌های پهن‌باند و دسترسی به اینترنت پرسرعت از الزامات است.

مقاومت در برابر تغییرات: تغییرات سریع در تکنالوژی می‌تواند مقاومت‌هایی را در بین برخی از بخش‌ها و افراد ایجاد کند. آموزش و فرهنگ‌سازی در این زمینه می‌تواند مقاومت‌ها را کاهش دهد.

امنیت سایبری: حفظ امنیت سایبری و جلوگیری از حملات سایبری یکی از چالش‌های مهم در توسعه اقتصاد دیجیتلی است. استفاده از پروتکل‌های امنیتی قوی و آموزش کارکنان در زمینه امنیت سایبری ضروری است.

## نتیجه‌گیری:

اقتصاد دیجیتلی با قابلیت‌های فراوان خود می‌تواند نقش مهمی در رشد اقتصادی و افزایش کارآفرینی داشته باشد. وزارت مالیه با نقش‌های مختلفی که ایفا می‌کند، می‌تواند به توسعه این اقتصاد کمک شایانی نماید. ایجاد زیرساخت‌های مالی مناسب، حمایت از نوآوری، افزایش شفافیت، توسعه منابع انسانی و تشویق به سرمایه‌گذاری از جمله اقداماتی است که این وزارتخانه می‌تواند انجام دهد تا اقتصاد دیجیتلی به بهترین نحو ممکن توسعه یابد.


# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه یک باب دوکان نمبر(٤) به مساحت(۱۸,۵) مترمربع واقع لیسه مریم ناحیه (۱۱) شاروالی کابل مربوط مغازه نمبر(۱۰) به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۷۸۰۰۰) افغانی برای مدت (۱) سال به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ۳٤,٥۷۸۹۲ ٦۹,۱۳۸۹۸

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق الذکر باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ (۵ / جدی/ ۱۴۰۳ الی۱۸/ جدی/ ۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر۱۴ منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز.

شماره های تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤).

تاریخ مجلس داوطلبی: ۱۹/ جدی / ۱۴۰۳ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه (۱۱) باب دوکاکین نظیف مارکیت واقع کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم شاروالی کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه برای مدت ( ۱ ) سال به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱. دوکان نمبر B۱۳٦ به مساحت ۱۵ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤٥۰۰) افغانی.
۲. دوکان نمبر B۱۳۷ به مساحت ۱۵مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٤٥۰۰ ) افغانی.
۳. دوکان نمبر B۱۳۸ به مساحت ۱۵مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٤٥۰۰ ) افغانی.
٤. دوکان نمبر B۱۳۹ به مساحت ۳۹ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی سر سرک عمومی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۰۰۰۰) افغانی.
۵. دوکان نمبر D1-۲ به مساحت ۷۸,۸٤ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۳۰۰۰) افغانی.
٦. دوکان نمبرD۳ به مساحت ۱۹,۷۱مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤٥۰۰) افغانی.
۷. دوکان نمبرD٤ به مساحت ۱۵ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤٥۰۰) افغانی.
۸. دوکان نمبر D۵ به مساحت ۸,۷۵ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۰۰۰) افغانی.
۹. دوکان نمبر D٦ به مساحت ۱۳,۷۸ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۰۰۰) افغانی.
۱۰. دوکان نمبرD۷ به مساحت ۱٦,۹٦ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۰۰۰) افغانی.
۱۱. دوکان نمبر D۸ به مساحت ۱٦,۹٦ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۰۰۰) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,٥۱٥۲۷۲

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ (۵ / جدی/ ۱۴۰۳ الی۲۵/ جدی/ ۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر۱۴ منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز.

شماره های تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤).

تاریخ مجلس داوطلبی: ۲٦/ جدی / ۱۴۰۳ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء(تدارک المارى های متحرک آرشیف مستوفیت ننگرهار) دارای نمبر تشخیصیه (۱۰۰۷-W/۱٤۰۳/MOF)که به روش داوطلبی باز صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

تاریخ مشخص جلسه قبل از داوطلبی: تاریخ ۱۸/جدی/۱٤۰۳ ساعت ۱۱:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲٦/جدی/۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر: به مبلغ ٦۰،۰۰۰ (شصت هزار) افغانی میباشد.

آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦ .

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

## دعوت به داوطلبی

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه دوکاکین نظیف مارکیت واقع کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم شاروالی کابل را برای مدت ( ۱ ) سال به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱. دوکان نمبرB۱۱٤-۱۱۵ به مساحت ۲٤ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٦٥۰۰) افغانی.
۲. دوکان نمبر B۱۱٦ به مساحت۱۲مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۳٥۰۰ ) افغانی.
۳. ده باب دوکان از (B۱۱۷ الیB۱۲٦) در دو منزل شامل مسجد منزل اول ٤۷٦ مترمربع منزل دوم ٤۰٦ مترمربع و مسجد٦۹,۳ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٤۰۰۰۰) افغانی.
٤. دوکان نمبرB۱۲۷ به مساحت ۱۵مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٤٥۰۰ ) افغانی.
۵. دوکان نمبر B۱۲۸-۱۲۹به مساحت ۳۰ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۹۰۰۰) افغانی.
٦. دوکان نمبر B۱۳۰ به مساحت ۱۵ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤٥۰۰) افغانی.
۷. دوکان نمبرB۱۳۱ به مساحت ۱۵ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤٥۰۰) افغانی.
۸. دوکان نمبرB۱۳۲ به مساحت ۱۵مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤٥۰۰) افغانی.
۹. دوکان نمبرB۱۳۳ به مساحت ۱۵ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤٥۰۰) افغانی.
۱۰. دوکان نمبر۱۳٤-۱۳۵B به مساحت ۳۰ مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۹۰۰۰) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,٥۱٥۲۷۲

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ۴ / جدی/ ۱۴۰۳ الی۲۴/ جدی/ ۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند

آدرس: سینما پامیر تعمیر۱۴ منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز.

شماره های تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤).

تاریخ مجلس داوطلبی: ۲۵ / جدی / ۱۴۰۳ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه


د امتیاز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)



# Declaration of MoF Regarding 'Granting of Pensioners' Rights'

Based on the 12th decree of the year 1446 of the Supreme leader of IEA, HH Amirul Momineen (may Allah protect him), according to the principles, the ministries and IEA-related bodies (retired before the re-establishment of IEA) and also after the IEA, It has been decided to give pension rights to IEA-run bodies' employees. According to the decree, the 'Supreme Court of Afghanistan' has been entrusted with the task of dealing with the cases of pensioners' rights in full coordination with MoF and non-budgetary units based on Sharia/ Islamic laws. All retirees, before the re-establishment of IEA, can apply to the 'Special Court of Pension Rights' to confirm their pension rights. On the basis of their applying, the court will conduct the investigation and execution in accordance with the procedures



and Sharia principles in cooperation with MoF and the relevant ministry of the retiree. Additionally, the share of the pension of the IEA-run bodies' employees, which was imposed from the salaries after the re-establishment of IEA, until the issuance of order (numbered 4802, dated 21/9/1445), It is executed through the budgetary and non-budgetary units without a court order. Notably, based on this decree, the process of enforcing the rights of retirees will start according to the schedule set by the Commission of Formations and Salaries.

# "Customs Affairs Progressed by 25.2% in Aqrab of Current FY1403" – DM of Customs, Revenues

The Deputy Minister of Customs and Revenues of MoF, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed has held 'technical evaluation meeting' of the affairs carried out at customs in the month of Aqrab of the year 1403 online and in-person. In this meeting, a comprehensive report of the activities carried out at the customs in the month of Aqrab of 1403 was presented. In this period, complete information was provided about the collection of revenues; the business conducted at customs, the customs value of imported goods, and the number and registered weight of commercial cargos, , in which the affairs of customs were observed 25.2% positive on the basis of YoY, compared to the same period of the last year. Likewise, according to the presented report, the



customs value of commercial items to Afghanistan has increased by 19.3% based on YoY. In relation to the presented report, technical discussions were held on all sides, and the obstacles and suggestions of the officials of the provincial customs were heard for the further development of the affairs as officials were assured for removing barriers.




# چین د افغانستان د شتمنی د خوشي کېدو غوښتنه کړې ده




د چاینا ډیلي - CHINADAILY په نوم چیني رسنۍ راپور کاږي، چې چین یو ځل بیا ږغ/ غږ کوي، چې د افغانستان بهرنۍ کنګل سوي پیسې دې خوشي سي؛ تر څو دا پیسې د افغانستان د اقتصادي بیارغوني او د خلګو د ژوند په ښه کولو کې مرسته وکړي. د ملګرو ملتونو امنیت شورا یو پرېکړه لیک تصویب کړ، چې د (۱٤) میاشتو له پاره ئې د اسلامي امارت پر وړاندې د بندیزونو د څارني د ټیم دنده وغځوله او چین ئې هم تود هرکلی وکړ. چاینا ډیلي زیاتوي، په ملګرو ملتونو کې د چین د دایمي استازي مرستیال ګېنګ شوانګ ئې په اړه داسې وایي: «چین له اړوندو هیوادونو څخه غوښتي دي، چې سمدستي او پرته له کومه شرطه د افغانستان بهرنۍ شتمني خوشي کړي.» یوازې دا نه، چې په راپور کې د پیسو د خوشي کېدو خبره راغلې ده؛ بلکې په چین کې د پاکستان پخواني سفیر سلمان بشیر هم د افغانستان ثبات ستایلی دئ. «د ټولني له پاره د ګډه راتلونکې په تړاو د پاکستان د څېړنیز مرکز» اجرائیوي رئیس خالد تیمور اکرم وایي، چې دا غوښتنه د چین ژمنتیا منعکسوي، چې له افغانستان سره د اوسني اقتصادي او بشري کړکېچ په لیري کولو کې مرسته وکړي. په ملګرو ملتونو کې د چین دایمي استازي فوکونګ وایي: «په تېرو (۳) کلونو کې اسلامي امارت د اقتصادي بیارغوني او په سیمه کې د اقتصادي اړیکو، سوداګرۍ، پانګوني، اتصال او همکارۍ د پیاوړتیا له پاره هڅې کړې دي.» فو زیاتوي، چې د بندیزونو لیري کول او شتمني خوشي کول یوازې اخلاقي اړتیا نه ده، بلکې د سولې او پرمختګ له پاره یو ستړېټیجیک/ ستراتیژیک ګام هم دئ.

د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لاري شریک کړي.
تلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷٤۵۷٦۵۷۵٦ ( ۹۳+ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!
که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همېشه در خدمت شماست!
اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱

شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.